**د حجاب د تطبیق طریقه او مراحل:**

**(۱): ترغیب:**

- د رسنیو او منبرونو له لارې د حجاب حکم، اهمیت او گټې او د بې حجابۍ زیانونه بیانول.
- په بازارونو، پارکونو، او عمومي مواردو کې د حجاب په هکله ترغیبي جملو لیکل او اړونده سټیکرونه لگول.

**(۲): تنبیه او ترهیب:**

- د بې حجابه مېرمنې دې په لومړي ځل کور په نښه کړل شي د هغې ولي ته دې توصیه وشي او تنبیه دې کړل شي.
- په دویم ځل دې ولي اړونده ریاست ته احضار کړل شي.
- په دریم ځل دې یې ولي درې ورځې حبس کړل شي.
- په څلورم ځل دې یې ولي محاکمو ته وسپارل شي تر څو په مناسبه سزا محکوم کړل شي.
- هغه مېرمنې چې د امارت اړونده ارگانونو کې فعالیت کوي او حجاب نه رعایت کوي، له دندې دې گوښه کړل شي.
- که د حکومتي مامورینو او منسوبینو مېرمنې او لونې حجاب نه رعایت کوي دندې به یې تعلیق کېږي.

**توظیف هیئت:**

۱) شیخ مولوی محمد خالد حنفی صاحب، د هیئت مشر.
۲) شیخ مولوی عبد الحکیم صاحب، عضو.
۳) شیخ مولوي نور محمد ثاقب صاحب، عضو.
۴) شیخ مولوی شهاب الدین دلاور صاحب، عضو.
۵) شیخ مولوی فرید الدین محمود صاحب، عضو.
۶) شیخ مولوی نور الله منیر صاحب، عضو.
۷) شیخ مولوي نور الحق انور صاحب، عضو.

## د شرعي حجاب اړوند لنډه توضيحي او تطبيقي طرحه

بسم الله الرحمن الرحيم

سره له دې چې زیاته موده د هېواد په کچه د ښځو د بې حجابه کولو په موخه په پرلپسې او منظم ډول پروګرامونه په کار اچول شوي وو، بیا هم له نېکه مرغه په سلو کې تقریبا (۹۹) نهه نوي فیصده د جهاد پروره ملت غیرتمندې مېرمنې حجاب د شرعي اصل او افغاني پښتن دود په توګه رعایت کوي، پاتې نورې دې هم چون هیڅ عذر او موانع وجود نه لري، دغه شرعي واجب حکم مراعات کړي.

**د حجاب حکم:**

- د مسلمانو اصیلو، بالغو ښځو لپاره شرعي حجاب رعایت کول فرض او ضروري دي.

**د حجاب تعریف:**

- بدن چې په هره جامه پټ کړل شي حجاب ګڼل کېږي، خو چې باریکه نه وي چې بدن ترې ښکاري او دومره تنګه نه وي چې د بدن د غړو نمایندګي کوي.

**د حجاب ډولونه:**

- چادري چې په هېواد کې له پېړیو را په دېخوا د افغاني باعزته کلتور برخه ده، د شرعي حجاب بهترین ډول دی.
- د حجاب په نوم مروجه تور رنګه جامه او څادر هم شرعي حجاب دی، چې تنګ او چسپ نه وي.
- له کور څخه بې موجبه نه وتل د شرعي حجاب د رعایت لومړی او بهترینه ړنه ده.

**د حجاب د رعایت موارد:**

- هغه ښځینه چې د عمر په لحاظ زړې یا وړې نه وي له نامحرمو نارینه وو سره د مخامخ کېدو په موال به د فتنې له امله د شرعي هدایاتو مطابق له سترګو پرته خپل مخ ضرور پټوي.

**د حجاب د رعایت ګټې:**

- ✓ شرعي حجاب د الله تعالی امر او رعایت کول یې د هغه د امر اطاعت دی.
- ✓ حجاب د مسلمانو او اصیلو ښځو امتیاز دی.
- ✓ باپرده مېرمنې له نافرماني او ګناه څخه په امن وي.
- ✓ له عزت او وقار څخه برخمنې وي.
- ✓ د مفسدینو له شر او فساد څخه خوندي وي.
- ✓ د فتنه اچوونکو اشخاصو او کړیو د دسیسو په آسانه نه ښکارکېږي.

رحکم شمیره: ۱۹۳۰
نېټه: ۱۴۴۳/۹/۲۴
۱۴۰۱/۲/۵

# د افغانستان اسلامي امارت

## د مشرتابه مقام دفتر

گڼه: ۵۵۶ج۱

نېټه: ۱۴۴۳/۹/۱۵هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او سمع شکايات وزارت ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

صحت او عافيت مو الله جل جلاله په نصيب کړه!

وبعد: د شرعي حجاب اړوند لنډه توضيحي او تطبيقي طرحه چې د شيوخ کرامو له خوا جوړه سوې ده، زموږ له خوا منظور ده، د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او سمع شکايات وزارت له خوا دې تطبيق سي، په تطبيق کې دې ستره محکمه، د ارشاد، حج او اوقاف وزارت، د پوهنې وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د استخباراتو لوی رياست او ټول خطيبان او واعظان پوره همکاري ورسره وکړي.

والســـــــلام

د اسلامي امارت مشرتابه مقام

ضمیمه:
— د شرعي حجاب اړوند لنډه توضیحي او تطبیقي طرحه

کاپي:

- ستره محکمه؛
- د ارشاد، حج او اوقاف وزارت؛
- د پوهنې وزارت؛
- د کورنيو چارو وزارت؛
- د استخباراتو لوی رياست.

وارده ۲۰۱۱
۱۴۴۳/۹/۲۵